څوک چې د يو مسلمان حق په ناحقه قسم خوړلو سره واخلي، نو الله تعالى پرې دوزخ لازم ګرځولى او جنت يې پرې حرام کړى دى» يو سړي ورته وويل: «اى د الله رسوله! که ډېر لږ هم وي؟» هغه وفرمايل: «که د مسواک د يو ډکي په اندازه هم وي

د ابوامامه، اياس بن ثعلبه الحارثي رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې د يو مسلمان حق په ناحقه قسم خوړلو سره واخلي، نو الله تعالى پرې دوزخ لازم ګرځولى او جنت يې پرې حرام کړى دى» يو سړي ورته وويل: «اى د الله رسوله! که ډېر لږ هم وي؟» هغه وفرمايل: «که د مسواک د يو ډکي په اندازه هم وي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دروغو د قسم خوړلو په اړه خبردارى ورکړى چې څوک په دروغو سره قسم وخوري حال دا چې پوهېږي، تر څو پرې د يو مسلمان حق په ناحقه تر لاسه کړي، نو د دې عمل سزا د دوزخ مستحق ګرځېدل او له جنت څخه محرومېدل دي. او دا (عمل) له کبيره ګناهونو څخه يو دى. يو سړي وويل: اى د الله رسوله! که چيرته هغه شى ډېر لږ وي چې قسم پرې خوړل شوى دى؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: حتى که دا (ناحق اخيستل شوى شى) د هغه مسواک د يو وړوکي ښاخي په اندازه هم وي، چې د اراک له ونې اخيستل کېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5430